د پالیسي پاڼو د خپروني لړۍ

د افغانستان په ښاري سیمو کې د بېوزلۍ لمنځه وړل

# ټولنیزو شبکو ته د ښاري بېوزلو خلکو د سختو اړتیاوو او د زیان منني د کمولو په منظور د ټولنیز ملاتړ د سیستمونو جوړول

سټیفن شوټ او برنډي بویر

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

۱۳۸۶ د ورې میاشت

## محتوا

ټولنیزه شبکې ښاري وګړو ته حیاتي پانګې ۱

د ټولنې په سطح ټولیز اقدام د خدماتو د وړاندې کولو لپاره د چاروا کو مسؤل شمېرل ۲

د ټولنیزو شتمنیو محدودیتونه ۲

وړاندیزونه ۴

## سریزه

ټو لنیزې شتمنې د ښاري بېوزلو او زیان منونکو کورنیو ته کومې چې د مذي زیرمو ته کمښت سره مخ دي، خصوصاً مخ په وړاندې هیوادونو کې، د زېرمو تر ټولو مهم بنوونکي دي.' مخ په وړاندې هیوادونو کې ځکه چې نا بې دولت ورتیا نلري او یا هم لیوال نه دي چې د وګړو لپاره ټولنیز ملاتړ برابر کړي. هغه پوښتنه چې د افغانستان د ښارونو په اړوند را پورته کېږي دادہ چې ایا ټولنیزې اړیکې او نا رسمي شبکې د هغو کورنیو لپاره چې زیه کړکېچ او ناڅاپي پېښو په خانګړې توګه د جنګ نه وروسته حالاتو کې چې فکر کېږي په ټولنیز بوالې کې ګډوډي موجوده وي)د یو سروېرۍ یا ملاتړ نجوړولو لپاره بس دي که نه.

هغه څېړنه چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې له خوا د افغانستان په دریو ښارونو کې تر سره شوې ده ښیي چې ټولنیزې منابع سرچینې په افغانستان کې پراخ شتون لري او د معیشت په ساتنه کې تر ټولو ارزښ عامل ګڼل کېږي. دغه ټولنیزې شبکې بر سېره پر دې چې ډېرې ګټې یې تامین کړې دي، مګر خپله دوي ډېر کم له بېوزلو نوټو نه پراختیا مومي او د دوي تر انتازې زیات کارول ښایي د دوي د له منځه وړلو لامل وګرځي.

د دغه پالیسي پاڼه په دې اړه بحث کوي چې ښاري کورني تر کومې کچې پر دې خوښې دي چې پر ټولنیزو اړیکو تکیه وکړي او دا چې څرنګه دغه شبکې له بېوزلۍ د خلاصون لپاره پوره ندي یا یې بو شمېر دي؟ دغه سند ندي مسلې ښوولو تر څنګ د ټو لنیز ملاتړ سیستم په مناسب حاي کې وړاندې کوي (څلورم مخ ولولی).

---

## ټولنیزې شبکې ښاري وګړو ته حیاتي پانګې

په افغا نستان کې د ښاري بېوزلو او سیدونکو ژوند په نا ډاډمنو کا ري فرصتونو کې یو بې ملاتړه،په شدت مو سمي او په لږ عاید لرونکي مشغولا په غیر رسمي اقتصاد کې ، په غیر رسمي ځا یونو کې اوسېدنه ، کوم چې د شدیدې بې امنۍ سره مخامخ دي او د کورنۍ د بنسټیزو اړتیاوو د چمتو کولو لپاره د باور وړ غیر رسمي سر چینو ته لاسرسي په وسیله ښودل کېږي د ټو لنیز دولتي ملا تړ لپاره د کوم میکانیزم د نه شتون په وخت کې ، امنیت هم د ګاونډي ټولنې ، پراخې کورنۍ یا پراخه خپلوانو په وسیله ساتل کېږي د افغانستان په ښارونو کې کورنۍ او د ګا ونډي توب اړیکې،په نسبتاً یوه لویه کچه شتون لري د نمو نې په ډول د پلټل شویو ښارونو ډېری کورنۍ د خپلو خپلوانو تر څنګ چې ډېر وخت د یوه مرستیالې سر چینې په حیث پېژندل شوې دي ژوند کوي

**لومړی شکل**: د هغو کورنیو فیصدي چې له خپلوانو سره ګاونډیتوب لري




۱ د بېلګې په ډول، H.G. Bohle: Neue Ansätze der Geographischen Risikoforschung. Ein Analyserahmen zur Bestimmung nachhaltiger Lebenssicherung von Armutsgruppen. Die Erde 2001(132):119-140.

۲ دغه اوږدمهاله څېړنې په ترڅ کې د کابل، هرات او جلال آباد ښارونو کې کورنې مطالعه شوې او د لنډمهالو اکتشافي مطالعو په وسیله په مزار شریف او پلخمري کې بشپړ شوې دي د دغې څېړنې د تګلارې او موخو په باره کې د زیاتو معلوماتو د لاس ته راوړلو لپاره دبېل جي او سټیفن شوټ د ښاري معیشتونو، کابل د دغه څېړنیزه ادارې خپرون وګورئ

## د لیکوالانو په هکله

پالا کاتنور د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د معیشتونو او جنسیت د څېړنو لوړرتبه مدیره ده.نوموړې په برتانیې کې د شرقي انګلیا په پوهنتون کې د انکشافي مطالعاتو په ښاځکه کې د ښوونکې په توګه هم دنده تر سره کوي. نوموړې د بېوزلۍ او زیان منني د مطالعې، او کاري شرایطو ته د لاس رسنې، او د هغه عوایدو تحلیل په برخو کې د جندر جنسیت لهرلید څخه تخصص لري.

سټیفن شوټ د دغه څېړنیزه ادارې د ښاري معیشتونو پروژه له ۲۰۰۴ څخه تر ۲۰۰۲ پورې اداره کوله.اوس مهال، نوموړی د څمکو د پالیسي او اداري سمون د یو پروژې د ولي مشرتابه په غاړه لري، دغه پروژه د بین المللي پرمختګ لپاره د برتانیې سازمان، آسیایې انکشافي بانک او د کرنې او اوبه لګونې وزارت په ګډه مخکې زي.

ددغو ټولنیزو شبکو ګټې بیشماره دي لکه څرنګه چې په دریم چارټ کې وینئ په دغوګټو کې لاندې ټکي شامل دي هغه ټولني چې د ماشومانو ساتنه کوي او ښځو ته د لاس مزد د لاسرسي د پیداکولو چارې برابروي هغه ګاونډیان چې د کمښت د دورو په وخت کې پراخه سپما، ډوډۍ، پورونه او دکاري فرصتونو په اړه معلومات چې په ټولنه کې د هغه پر سر شخړې کیږي چمتو کوي د هغه کورنیولپاره چې شدیداً د یوې کورنۍ په اړیکیزه شبکه کې پیژندل شویدي ددغسي ټینګو شتمنیو لرل، تردې چې هغوي یې د ماشومانو په ګټو د تکیې څخه خلاص کړي، ښوونځۍ ته د ماشومانو د تللو د موقع برابرول ډیر اړین امر دي.

ددغو ګټو لمن تر ټولو ځپل شویو کو رنیو پورې هم پراخیداي شي په پلټنیزه بیلګه کې داسي نمونې شته چې د معلولو سر پرستو کورنۍ د ګڼ نفوسه ټولنیزو شبکو سره اړه لري یا دا چې د هغو خلکو چې د هغوی سره په یوه چاپیریال کې ژوند کوي ملاتړ ور سره کیږي. دغه ډ ول ټینګو اړیکو، غالباً کار ته د لاسرسي په برخه کې، د روغتیایي ستونزو حل کول، او یا هم د مرستې د نورو ډولونو پیداکولو په برخه کې ددغه کورنیو سره مرسته کړیده دغه مسئله په جلال آباد کې ډیره ښکاره ده چې هلته په ځانګړي ډول دمعلولو کسانو تر سر پرستۍ لاندې کورنیو د تر اوږدې پلټنې لاندې دري ګو نو سیمو کې تر ټولو لوړه ګټه تر لا سه کړي ده ددغه ډول اړیکو درلودل ددې سبب شویدي تر څو د پیاوړو غړولرونکو کورنۍ فرصتونو ته دوي د لاسرسي د ړوتیا په دلیل د ټولنیزو شبکو د غړیتوب له لارې تر هغه کم عا ید ولري ځلورمه صفحه وګوري

هغه بېوزله افغان ښاري اوسیدونکي چې په پلټل شویو ځایونو کې ژوند کوي، همدارنګه د نورو ټولنیزو سیستمونو څخه ملتیا یا مقابله د ګټي په شکل تر لاسه کوي د نمونې په توګه کله چې یوه کورنۍ د خپل یوه غړي د مرګ په سبب زیانمنه کیږي، ډیري ټولنې خپلې پیسي یوځاي کوي تر څو د هغه د په کفن او ښخولو کي ورسره مرسته وکړي یو بل هیوادنی رواج د آشار په نامه دي چې په هغه کې ګاونډیان د واده یا اخترونو د ډوډۍ پخولو یا دغه ډول نورو کارونو د کړلو په خاطر سره غونډیږي چې د دوه اړخیزه اړین ملاتړ یا متقابل کاري ویش یو بل مثال دي دغه رواج په پلټل شویو ځایونو کې عموماً د کور په جوړولو کې عملي شوي دي د آشار رسم د دې سربیره چې د ګاونډیانو تر مینځ یووالي او پیوستون رامنځ ته کوي او هغه تاییدوي، د نوي برسیره شویو ټولنو په جوړښت کې هم ارزښتناکه ونډه لري پدې اساس د حیرانتیا وړ نه ده چې ځپل شوی افراد په ښکاره ډول د دوي د ټولنیزو شتمنیو په پراختیا او ساتنه کې خپل ډیر وخت او انرژي لګوي د لیرې خپلوانو لیدل، د خپلو خپلوانو او ټولنوسره په اخترونو کې ګډون، د ژوند په پیښو کې دخلکو د ملاتړ لپاره د پانګو او وخت لګول، لکه واده، د کفن او ښخولو مراسم، د دې په ډاډ او خبرتیا چې د دوي مرستې او زړه سوي به له بل لوري هم جبران شي.

## د ټولنې په سطح ټولیز اقدام د خدماتو د وړاندې کولو لپاره د چارواکو مسؤل شمېرل

د ټولنیزي شتمنۍ بل شکل د ټولنې په سطح ټولیز اقدام یا چارواکو ته عر کول دي چې د ټولنې د غړو په وسیله یا دهغه چا له لوري چې د ټولنیزې بې عدالتۍ سره مخامخ شویدي وړاندې کیږي کابل او جلال آباد هر یو دغه ډول نمونه یې ټولنې جوړې کړې دي چې د دوي ټولنیزې شبکې د بیرته اخیستنې، د خطر یا په بعضې حالاتو کې د تصدۍ د امنیت د ټینګښت لپاره چمتو والي نیسي.

د ټولیزو کارونو په مرسته کولاي شو د ټولنې د غړو تر مینځ یو پیوستون رامنځ ته کړو، حتي که دغه کارونه د مختلفو ولایاتو نه سرچینه واخلي ددې سره سره د دغه مطلب د بیان لپاره ډول ډول بیلګې شته دي چې هر کله که په کومه ټولنه کې ورته والئ نه وي، په دغه ډول ټولنو کې د کوچنیو یو بل ته ورته ټولنو په نسبت لږ شمیر تمایلي تعاملات تر سترګو کیږي په بعضو وختونو کې خپل ګټه رسوونکي سیستمونه په قومي او قبیلوي سرحدونو پورې محدود شوي وي، د نمونې په ډول په پلخمري کې په یوه کوچنۍ ټولنه کې دوه اړخیتوب یواځې پر اسماعیلیه پورې محدود شو او د هزاره وو هیڅ کومه کورنۍ په هغه کې نه ده راوستل شوي همدارنګه د مزارشریف په کوچنیو ټولنو کې، هغه قومې ګروپونه چې ډیرئ انحصاري شبکې یې جوړې کړې دي، نور لږکي اقلیتونه د هغه د ګډون نه بې برخې کوي.

## د ټولنیزو شتمنیو محدودیتونه

د ځپل کیدو د مخنیوي یا محو کولو لپاره د ټولنیزو شتمنیوڅخه د ټولو تر لاسه شویو ښیګڼو سره سره بیا هم د غیر رسمي ټولنیزو شبکو فعالیتونه ډیر کم د دوي له ګاونډیانو څخه پراخیږي ډیر کم شواهد شته دي چې وښیي په پلټل

دويم شکل : ګاونډیتوب کې د ځپلوانو د شمیری منځنۍ ګچه




دریم شکل : له مرستو څخه برخمنو کورنیو فیصدی



شوېو ځايونو کې بېوزلې کورنۍ ددې وړتيا لري چې د شتمنو خلکو سره خپلې اړيکې پراخه کړي دغه يوه ځانګړې مسئله طرح کوي، په داسې حال کې چې ليدل کيږي چې ډيرځ خواب ورکوونکي بيوزله ښاريان د ټولنيزو شبکو سره ټينګې اړيکې لري دغه د ملاتړ سيستمونه د پاتې کيدو په ميزان کار کوي او هغه سرچينې چې په لاس يې راوړي دي ډير کم خلکو ته د دې وړتياورکوي چې پر بيوزلتوب بريالي شي د ټولنيزو شبکو تر اندازې زيات استعمال د دوی د زيانمن کيدو سبب ګرځي دليل يې دا دي چې بې له بنسټيزو مادي زيرمو په مناسبو ځايونو کې ، د دوه اړخيزو مرستو دوام ستونزمن وي او د دوامداره ملاتړ اړتيا شته تر څو دغه شته شبکې له مينځه يوسي د ټولنيز ملاتړ غير رسمي سيستمونه په تيزۍ خپل محدوديتونه له منځه يوسي، په ځانګړې توګه هغه کورنۍ چې مجبورې دي تر ټولو خطرناکې او کمزورې تګلارې د ژوندانه لپاره مخ ته يوسي، دغه ډلې چې پر ټولنيزو شبکو زياتې تکيې ته ډيره ليوالتيا لري مګر د خپل مثل سره د مقابلې وړتيا نه لري ، تر ټولو زيات د خپلوانو د اړيکو نه د محروميدو د خطر سره مخامخ دي ټولنيزې زيرمې پشتوانه په خپل ځان کې په دوه ډوله دي د دوی د ژوندانه اهميت د ښاري ژوندانه په تامين کې چې ښايي ډير ټينګار پرې وشي، مګر تر اوسه هم د ټولنيزو شبکو څخه ساتنه د بيوزلۍ د شرايطو په سبب کيدای په ډير ستونزمن او حتي ناممکن کار بدل شي دغه امر د دولت د ملاتړ د ټولو څېل شوېو افرادو يا ډلو سره ښيي چې کولای شي د هغو کسانو لپاره چې په خپلواک ډول ښه کار کوي، ډير ډاډمن ژوند جوړ کړي.

په بعضې حالاتو کې چې اړيکې د کورنۍ او خپلوانو څخه پراختيا پيدا کړي، د يوه مقياس په توګه د يوه شي لپاره په نظر کې نيول کيږي چې د هغه د ټولنيزي نښلوونکې شتمنۍ په عنوان يعني د ټولنيزو شبکو جوړول په توله ټولنيزه او سياسي دايره کې يا د سازمان شوېو ډلو يا انفرادي کورنيو يوځاي کېدل د پريکړه نيوني يا سياست سره.

که د دوه اړخيتوب التزامات په ښاري ژمنو او د پريکړه نيوني په وختونو کې د ټولنې د کټو په نظر کې نيولو باندې بدل شي، ټولنيزې شتمنۍ به هم په سياسي شتمنيو بدلې شي سربيره پر دې، د دغه کار د کيدلو په اړه په پلټل شوېو ټولنوکې کم شمير شواهد شته د افغانستان د معلولينو ټولنه په حقيقت کې د معلولو ترببه شوېو يوه ډله په جلال آباد کې د يوه مثال ښودونکې ده چې په هغه کې د ټولنې يوه بې برخې ډله سازمان او په سياسي ډګر کې راښکاره شوې او د حکومت له رسمي سازمانونو سره اړيکې لري، او په ښکاره ډول خپلې غوښتنې بيانوي برسيره پردې د دغه ټولنې بعضې غړې پر دې توانيدلې چې ټولنيزې اړيکې ټينګې کړي چې د هغوی د اړيکو لمن د هغوی د ټولنيزو محدوديتونو څخه زياته ده او دوی ته يې د دوی د پرمختګ زمينه برابره کړې ده.

د دغو شبکو ترون د افغانستان په ښارونو کې ترڅو وکولای شي سياستوالو، پلان جوړوونکو، او منځګړو ته لاسرسي پيدا کړي ډير يو ستونزمن کار دي په کم شمير شواهد په لاس کې دي چې بېوزلې کورنۍ په هغو ځايونو کې چې هلته ځېل شوې کورنۍ د ډيرو ستونزو لکه له وطنه ليريتوب ، بې امني او د دولت له بې اعتنايۍ سره مخامخ دي او د صلاحيت د درلودلو سره سره بيا هم د ضعف احساس کوي او نشي کولای د ټولنيزې پريکړه نيونې په کار کې برخه واخلي

**ځلرم شکل**: د معلول او يا روغ شخص د مشرى لاندى کورنۍ د منځنى کچې مياشتنى عياد د وګړو پر سرافغانۍ




او يا هم داچې په هغو کې نماينده ولري د زورواکو سره د اړيکو نه درلودلو په وخت کې کله کله خلک هڅه کوي د رشوت په ورکولو سره د هغه پاملرنه لاسته راوړي لکه څنګه چې د راستون شوېو يوې ډلې په کابل کې کوښښ وکړ چې په دغه طريقه بې د اجازې څخه لسګونو شخصي کورونو ته ننوزي او هلته واوسي د دغو ډلو او سيدونکو ډيرې پيسې سره ټولې کړې او دولتي چارواکو ته ورغلل او د هغوی نه يې وغوښتل چې د دغه راستون شوېو په اصلي سيمو کې د ملکي ځانګړې کولو يوه پروسه پيل کړي چه وروسته دغه پيسې قبولې شوې اما تر اوسه هيڅ توزيع نه ده شوې.

ټولنيزې شتمنۍ په عين حال کې چې کولای شي د ټولنې په سطح تر يوه حده مستقيماً د اقداماتو سبب وګرځي په ستونزمنه توګه په نمايندګۍ هم بدليدای شي څکه چې اولاً د ټولنيز مساوات نشتوالي په دې معنا دي چې ټول غړي په مساوي ډول د نمايندګۍ لرونکي نه دي، او د قدرتمندو ډلو ګټې تل غالبې دي په افغانستان کې سيمه ايزې جرګې ډير پخوانې رسم او رواج دي مګر دغه جرګې په رسمي ډول نيم جمعيت ښځو ته د داخليدو اجازه نه ورکوي او ډيرځ وخت د بې برخو ډلو يا د سيمې د ليرې برخو نمايندګانو څخه نه وي جوړې شوې برسيره پردې د دوی بريالۍ نمايندګۍ د يوه ځواب ورکوونکي دولت غوښتونکې ده چې تل په ښارونو کې شته والي نه لري او د هغه دليل د سرچينو محدوديتونه يا د سياسي ارادې نشتوالی دي په اوسنيو شرايطو کې يو شديداً سياسي شوې چاپيريال حاکم دي چې دملي دولت يا سيمه ايز دولت د نمايندګيو د رقابت څخه جوړ شوې دي دغه مسئله د يوه سازماني شيته آشفته شرايطو د جوړيدنې سبب ګرځي چې په هغه کې د ښارونو پراختيا د هيچا او د هرچا مسئوليت کيږي په دغه ترتيب د ټوليز اقدام د اغيزې د پلټنې ، نمايندګۍ ، او سيمه ايز حکومت د ښاري ژوندانه په بنسټ اړين دي تر څو قدرتمند د کارپيژندنې پرمهال حساب ورکونې ته راکش کړل شي.

۳. ووډ، ... Wood, ... "[illegible]" ... مجله"، ۲۰۰۱ ... [illegible]

# وړاندیزونه

د افغان ښاریانو د ښه توب منل او ابتکار د انکار وړ نه دي ، د غه ځانګړني په درېو پلټل شویو ځایونو کې کاملاً ښکاره دي ددې سربېره د غه کار دولت او تمویلوونکې نړیوالې سرچینې په ټولنیز ملاتړ، مشغولتیا زېږوونکې پروګرامونو او مادي او ټولنیزو زېربناوو په برخوکې د پانګې اچونې د مسئولیت څخه نه خلاصوي دلیل یې دادي چې دولت د دغه ډول خدماتو په وړاندې کولو کې بریالي نه دي نو لدې امله ښاري بیوزلان مجبور دي چې په شدت په ټولنیزو شبکو تکیه وکړي د ټولنیزو شبکو د مسئولیت د کمښت او د ځواکمنو او بیوزلو کورنیو د نښلوونکو اړیکو د زیاتوالي په منظور لاندې ټکې وړاندې کیږي.

١ **د ښاري بیوزلو خلکو د ستونزود حل کولو او د حل د لارې د لټولو پر ظرفیت د تکیې څخه د لورې بدلولو څخه ملاتړ ، د ټولنیز ملاتړ هغه پروګرامونه باید زیات کړل شي کوم چې د خطر میزان کموي** د ښاري فقیرانو د شتمنۍ شیان دومره ډول ډول نه دي چې د کورنیو څخه د اقتصادي ضرباتو مخنیوي وکړي او یا هم داچه په تل پاتې توګه هغوي د بیوزلۍ څخه و ژغوري دولت دنده لري چه د ټولو ځپل شویو افرادو یا ډلو څخه ملاتړ وکړي او د ژوندانه د خطراتو د کمښت په منظور ، د شتمنیو د نه ورته والي میزان ته پرمختګ ورکړي د دغو کار په کړلو کې لاندې ټکي لازم دي.

- په عاملینو کې په ملي او ښاري سطحه د ظرفیت او سیاسي ارادې موندل دولتي او هم غیر دولتي د ودې د توانایيو د ښه توب په منظور د ټولنیز ملاتړ په تر سره کولو کې په لازمه اندازه د ښار په برخه کې.
- د ټولنیز ملاتړ د پروګرامونو طرحه کول چې د ځپل شویو ډلو د قوي کارګر نه لرونکې کورنۍ، د معیوبو او معلولو غړو په عاید متکي کورنۍ او نور او د لازمو سرچینو موندل د د غو پروګرامونو د تطبیق لپاره.
- د ښاري بیوزلۍ د کمولود پروګرامونو د بودیجې تامین او پرمختګ چې د مادي او د فني خدماتو د تامینولو څخه پراخه وي، د اقتصادي او ټولنیزو بې امنیتیو په عنوان.

٢ **د خلکو د ډلې په سطحه د اقدام ترغیب او ترویج**

- د ترټولو ښه کارونو د منل شویو پیښنو په اړه کوم چې د ټولنیز اقدام په اړه وي پلټنه وکړي، په افغانستان کې تر ټولو مناسب او اړونده بېلګې تر لاسه کړي.
- پروژې چه له نورو برخوڅخه په ګټه اخیستنه نوښت شوي وي چې د ټولنې د زېربنایي خدماتو ، د کفن او ښخولو مرسته کوونکې ټولنواو خپل ګټې ډلې د لاربښودنې امکان ولري ، و آزمایۍ دغه کار په عین وخت کې چې د ښاري بیوزلو او سیدونکو مسئولیت پر ټولنیزو شبکو کموي او دوي د دوي د ژوندانه د مخ په مخ ته بیولو کې مرسته کوي ، کولاي شي د ټولنیز ملاتړ د پوښښ په پراخولو کې نورو ولایاتو ته مرسته وکړي.

٣ **په ټولنیزه پریکړه نیونه کې د ښاري بیوزلو کورنیو د شریک کولو لپاره ډېرې لارې و مومئ ، په دا ډول چې د هغوي له شتمنیو څخه د اهرم اکسل په حیث واکمنو ته د نفوذ په منظور ګټه واخلي او دوي ته د واکمنو سره د نژدې کیدو زمینه برابره کړي**

- په شوراګانو او په ور ورته ټولنیز حکومت کې د ملي پیوستون پروګرام کې پراخه نمایندګي او په یو ه کوچنۍ ټولنه کې د ښځو ، ځوانانو او ځنډو ته کښل شوو ډلو شریکول.
- د دولتي کارکوونکو پوهه د عمومي مشارکت ګډون او منل شویو پروسو په اړه زیاته کړل شي د دولتي او ښاري چارواکو لپاره پاروونکي تشکیلات تر څو ټولیزې کړنې د ښاري بیوزلو ټولنو د اړتیاوو لپاره پیدا کړي.

۴ **د ښاري بې برخو کورنیو لپاره ښه وسایل مالي خدماتو ته د لاسرسي په منظور لکه سپما ، بانکی پور او د بیمې محصولات و مومي** د ملي اقتصاد ناتواني د شغل د محدودیت په چوکاټ کې د ښاریانو د ځپل کیدو سبب ګرځي او دوي د ټولنیزو شبکو څخه پور اخیستلو ته اړ باسي

- ټولنیزو خدماتو ته د ښاري بې برخو کورنیو لاسرسي زیات کړي تر څو هغوي ته ممکن شي چې کارونه پیل کړي او هغوي پراخ کړي ترڅو عاید یې زیا ت شي او په دغه وخت کې د ورځنیو اړتیاوو لپاره او په بیړنیو شرایطو کې په پور اخیستنه تکیه کړل کم شي.
- د ټولنې د بیمې موجودې نمونې وګوري دغه ډول تدابیر کولاي شي د ناڅاپه ضرباتو یا لګښتونو د مخنیوي سره مرسته وکړي وڅیړئ چې ددغو نمونو کوم یو په افغانستان کې د اجرا وړ دي.

AREU
Afghanistan
Research and
Evaluation Unit

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره
د ګل فروشی کوڅه د (دوهمې کوڅې ګوښه)
نوی ښار کابل
ټلفون +۹۳ (۰) ۷۹۹ ۲۰۸ ۵۴۹
areu@areu.org.af
www.areu.org.af